# په WIC سره په انلاین بڼه فرمایش ورکول اوسمهال په WALMART کې شته دي!



## آنلاین پیرل وکړئ ترڅو په اسانۍ سره د WIC خواړه واخلئ

- د انتقال یا پورته کولو وخت غوره کړئ چې ستاسو لپاره مناسب وي.
- خپل لټون د WIC وړ توکو ته راټیټ کړئ.

## له آنلاین کېدو څخه مخکې پوه شئ

- په واشنګټن کې هر ځای کې د Walmart پلورنځی غوره کړئ.
- د WICShopper په اپلېکېشن یا د Walmart ویب سایټ کې د خپلې ګټې بیلانس وګورئ.
- وختي پیرود وکړئ! پورته کول، انتقالات او تبادلې باید **ستاسو د اوسنۍ ګټې په موده کې دننه** ترسره شي.
- وګورئ چې آیا انتقال ستاسو په سیمه کې یو انتخاب دی که نه.
  - مهرباني وکړئ په یاد ولرئ: WIC د انتقال فیسونه تر پوښښ لاندې نه راولي.

**د Walmart ویب سایټ یا اپلیکېشن په کارولو سره آنلاین پیرود وکړئ**

**Walmart** | پیسې سپما کړئ. په ښه توګه ژوند وکړئ.

د **Walmart** اپلېکېشن ډانلوډ کړئ.

Download on the App Store

GET IT ON Google Play

**پوښتنې او ملاتړ لپاره د Walmart مرستې مرکز سره اړیکه ونیسئ**

مرسته - **Walmart.com**

ټلیفون: **1-800-925-6278**




## څنګه پیل وکړئ

- Walmart.com ته لاړ شئ یا د Walmart اپلیکېشن پرانیزئ.
- په **"Sign in (ساین ان)"** یا **"Create an account (یو حساب جوړ کړئ)"** کلیک کړئ.
- په **"Add new payment method (د تادیې نوې طریقه اضافه کړئ)"** یا **"Add payment card (د تادیې کارت اضافه کړئ)"** کلیک کړئ او خپل د WIC کارت شمیره او PIN دننه کړئ.

## د پیرود کولو څرنګوالی

د WIC خواړو لټون کولو لپاره 2 لارې شتون لري.

1. **د لټون برخه وکاروئ.**
   - هغه خوراکي توکی داخل کړئ چې په لټه کې یې یاست.
   - د "WIC Eligible" (د WIC لپاره په شرایطو برابر) لیبل په لټه کې و اوسئ:
   - پر "+Add" (په اضافه کولو +)
   - مهرباني وکړئ په یاد ولرئ: Walmart ښایي نور داسې توکي وښیي چې د WIC پر شرایطو برابر دي. د "WIC Eligible" (د WIC لپاره په شرایطو برابر) لیبل او خپل د پیرود لېست وګورئ ترڅو تایید کړئ چې ستاسو په حساب کې د خوراکي توکو کومې ګټې شتون لري.
2. **د WIC ګټې وپېژنئ**
   - د **Services (خدمت)** لاندې راښکته کېدونکي مینیو انتخاب کړئ.
   - **Online Ordering (انلاین فرمایش ورکول) انتخاب کړئ.**
   - **WIC** تر **Benefits Programs (د ګټو پروګرامونه) لاندې انتخاب کړئ.**
   - **خپل د** WIC پر شریطو برابر خواړه اضافه کړئ.

## څنګه د پیرود پیسې ورکړئ

1. په خپل **Shopping Cart (د پیرلو په ګاډی)** باندې کلیک وکړئ.
2. **Pickup (پورته کول)** یا **Delivery (انتقال)** غوره کړئ او یوه ورځ او وخت وټاکئ.
   » د تحویلي موجودیت د پتې پر بنسټ دی.
3. **"Continue to check out (پیسو ورکولو ته دوام ورکړئ)"** کلیک کړئ.
4. خپل **WIC پین** داخل کړئ.
5. خپل فرمایش او د تادیې انتخاب بیاکتنه وکړئ.
6. په **"Place order (د فرمایش ورکول)"** کلیک وکړئ.
   » د خپل WIC کارت کارولو اجازې ورکولو لپاره بیا د WIC پین داخل کړئ.

ستاسو د ګټو لیست به تازه شي کله چې ستاسو فرمایش ورکړل شي.

### لارښوونې:

تر دې مخکې چې ستاسو حساب تر نیمې شپې پورې قفل شي، تاسو خپل پین داخلولو لپاره 4 هڅې لرئ.

Walmart له تاسو غواړي چې د تادیې ثانوي بڼه داخله کړئ که چیرې تاسو انتقال غوره کړئ یا په خپل فرمایش کې کوم غیر WIC توکي ولرئ.

---

DOH 961-1293 CS February 2025 Pashto
په بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتلو لپاره 1-800-841-1410 شمېرې ته زنګ ووهئ. د کڼو او هغو ییربدونکو لپاره چې په اورېدو کې ستونزه لري، مهرباني وکړئ 711 (Washington Relay) سره اړیکه کې شی یا دلته برېښنالیک ولېږئ WIC@doh.wa.gov.